"منځلاري" مسلمان د امريکا له نظره

د رنډ څېړنيزې ادارې د ۲۰۰۷م کال راپور ته يوه کتنه

ليکوال: باسم خفاجي

ژباړن*: ذاکر جلالي

لنډيز

د رنډ امريکايي ادارې (RAND Corporation) په دې وروستيو کې د «معتدلو اسلامي شبکو جوړولو» تر سرليک لاندې يو راپور خپور کړی. دغه راپور د متحده ايالاتو حکومت ته د تګلارو او کړنلارو وړانديز کوي او له امريکا غواړي چې د معاصرو اسلامپالو پر ضد مبارزه کې د سړې جګړې له تجربو ګټه پورته کړي. زموږ تر بحث لاندې راپور د امريکا ادارې ته لارښوونه کوي، چې د اسلامپالو (چې په راپور کې «افراطي جريانونه» يادېږي) له افکارو او باورونو سره د مقابلې لپاره سيکولر، لېبرال او «روڼاندي» ډلې رامنځ ته کړي، تقويه او مرسته يې وکړي. دغه راپور، اعتدال او منځلاري د لوېديځ او امريکا له نظره تعريفوي او ورته خپلې خاصې ځانګړنې او شاخصونه په ګوته کوي. د دې راپور په اوږدو کې د هغو منځلارو ډلو لپاره يو ولس معيارونه او ځانګړنې په ګوته شوي، چې تمه ده د امريکا په استازيتوب د اسلامپالو پر ضد فکري جګړه پرمخ بوځي.

دغې ليکنې پر دغه راپور يو عمومي نظر اچولی او هڅه يې کړې چې د اسلام او منځلارو مسلمانانو لپاره امريکايي معيارونه روښانه کړي او د امريکا له خوا د منځلارو ډلو د رامنځ ته کولو له څرنګوالي پرده پورته کړي.

هغه امريکايي څېړنيزې ادارې چې پر منځني ختيځ تمرکز لري، د امريکا د حکومت لپاره يې د اسلامي نړۍ پر ضد د فکري جنګ د توجيه لپاره، ګڼې تګلارې او کړنلارې وړاندې کړې. په دې منځ کې، د رنډ موسسې رول، چې په نړۍ کې تر ټولو ستره څېړنيزه اداره ده د داسې ادارې په توګه چې د امريکا په سياسي پرېکړو کې يې رول ډېر کليدي او پاموړ دی، تر نورو ادارو ډېر مهم دی. دغې ادارې د ۲۰۰۷ په مارچ کې د «منځلارو اسلامي شبکو جوړول يا Building Moderate Muslim Networks» تر سرليک لاندې راپور خپور کړی دی. دا راپور د رنډ ادارې د هغو فکري راپورونو بشپړوونکی دی، چې د اسلامي نړۍ پر ضد امريکا د فکري جګړې د چوکاټ بندۍ او سازماندهۍ په موخه د سپټمبر له يوولسمې وروسته خپرېږي.

مخکې له دې چې د راپور منځپانګې او د بحث اصل ته ورشو، د دغې ادارې پخواني راپورونه يو ځل له نظره تېروو. د رنډ موسسه له اتو کالو راهيسې پر هغې پديدې تمرکز لري، چې د «اسلامي ګواښ يا خطر» په توګه يې تعبيروي او تر دې دمه يې په دې باب ګڼ راپورونه خپاره کړي دي. دلته يو ازې د رنډ پر هغو راپورونو يو نظر اچوو، چې تر ټولو ډېر اغېزناک و.

دغې موسسې په ۱۹۹۹م کې (يعنې د سپټمبر له يوولسمې دوه کاله وړاندې) د «نوې ترهګرۍ پر ضد مقابله» تر سرليک لاندې د ځينو امريکايي کارپوهانو په هڅه په ۱۵۳ مخونو کې يو راپور خپور کړ. کولی شو ووايو، چې دغه

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپور د «ترهګرۍ» په اړه د امريکايي پوهانو د افکارو او ليدلوريو لنډيز ښکاره کاوه. دا ليکنه د دې پوښتنې د ځوابونې په هڅه شوې وه چې ايا «نوې ترهګري» د امريکا متحده ايالاتو ته ستراتيژيک ګواښ ګڼل کېږي که نه او څېړونکو د دې پوښتنې په ځواب کې ويلي چې هو، ترهګري، په تېره د منځني ختيځ ترهګري د امريکا او صهيونيستي رژيم ګټې له خطر سره مخ کوي او ګواښي يې.
د رنډ ادارې د ۲۰۰۵ په فبروري کې د «ډيموکراتيک مدني اسلام» تر سرليک لاندې يو راپور خپور کړی و. د دغه راپوريو څېړونکی ليکي: «د دې لپاره چې خپلو غوښتنو او موخو ته ورسېږو، په سيمه کې د اسلام د حقيقت او ماهيت له پېژندنې خلاصی نه لرو. دا اسلام دی چې د اوسني وضعيت د بدلون لپاره زموږ ټولې هڅې له ناکامۍ سره مخ کوي. يوازنۍ حل لاره دا ده، چې مسلمانان د «بنسټپالو، دودپالو، نويتوب پالو او سيکولرانو» په څلورو ډلو وويشو. دغه راپور د «بنسټپالو» پر ضد يوازنۍ مناسبه کړنلاره داسې راټولوي: د «بنسټپالو» پر ضد بايد وجنګېږو او د هغوی ريښه او بنياد له منځه يوسو؛ بنسټپال له ډيموکراسۍ او د لوېديځ له ګټو سره جوړجاړي ته نه شي رسېدای او جهادي افکار او له قرآنه ظاهري تفسير لري. له دې امله، د دوی لپاره مرګ واده او وياړ دی؛ دا خلک غواړي اسلامي خلافت ژوندی او پرېښنو ودروي. له بنسټپالو وېره په کار ده؛ ځکه دوی د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره له نوو او ماډرنو وسايلو هم کار اخلي. دوی د بيان او استدلال منطق لري او کولی شي خلک ځانونو ته لېواله کړي. د دغو بنسټپالو عيني بېلګې کېدای شي سني سلفيان، د القاعده تنظيم او د دغو ډلو مينه وال او دوستان او وهابيان وي».
دا راپور وړانديز کوي چې د «دودپالو» پر ضد داسې چلن وشي: «په هېڅ ډول بايد د د دودپالو او بنسټپالو ترمنځ د اتحاد او يووالي زمينه برابره نه شي؛ دودپالي بايد د بنسټپالو پر ضد د علم، فرهنګ او مالي همکاريو په وسله سمبال کړو، د دوی ترمنځ بايد د ځواک انډول وساتو او د دواړو ترمنځ د نزاع او اخ و ډب اور لګېدلی وساتو. همدا راز بايد صوفي او شيعه ډلو سره مرسته او وهڅول شي. [ابن خلدون وايي: که شيعه نه وای، تصوف به هم نه و.] د حنبليانو پر ضد (چې د وهابي او القاعدې د افکارو ګډوله دي) بايد د حنفيانو فتواوې خپرې کړو. په ځانګړي ډول، دودپالي، چې پراخ ليد او نظر لري، بايد تقويه او مرسته ورسره وشي. همدا راز د «ډيموکراتيک او مدني اسلام» راپور ټينګار کړی چې «بايد دودپالي د بنسټپالو پر ضد تقويه شي او په لوېديځ کې مسلمانانو، ديندارانو، ځوانانو او ښځو ته داسې وښودل شي، چې بنسټپال له دين څخه معکوس او ناسم برداشت لري او له ترهګرو ډلو سره تړلي دي. همدا راز بايد د تندلارۍ او د بنسټپالو افراطيت خلکو ته څرګند شي. دا خلک، د رهبرۍ او د چارو د ادارې په مسايلو کې کمزوري او وروسته پاتې معرفي شي او ترمنځ يې بېلوالي او تفرقه واچول شي.
ورځپاڼه ليکونکي وهڅول شي چې د بنسټپالو د ژوند د جزيياتو په باب معلومات راټول کړي او له دې لارې له شتنه وسايلو سره د هغوی شخصيت وژنه وشي او د هغوی دوه مخي، بې ادبي او بې ايماني څرګنده شي. هېر مو نه شي چې د بنسټپالو د کړنو ډېر لږ قدردانی هم بايد ونه شي او داسې هم نه شي چې څوک هغوی د اتلانو په توګه معرفي کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خلک باید په بزدلۍ، حماقت، ترهګرۍ، وېره خپرونې او انسانوژنې ډېر مشهور شي، چې بیا نه څوک پرې مهرباني وکړي او نه هم زړه پرې وسوځوي».
دا څېړنیز راپور د رنډ موسسې د څو تنو کارپوهو کارمندانو له خوا چمتو شوی دی. د دې راپور یو تر ټولو پېژندل شوی څېړونکی «انجل راباسا» نومېږي. دی اکاډیمیک او محقق انسان دی؛ انجل باسا له دې وړاندې د امریکا د بهرنیو او دفاع وزارتونو په لوړو څوکیو کې کار کړی دی. د ډاکترۍ سند یې له هاروارډ پوهنتونه ترلاسه کړی او پر انګلیسي سربېره په فرانسوي، ایټالیایي، یوناني او اسپانیایي ژبو کې مهارت لري؛ دې سړي د اسلامي نړۍ په اړه پراخې لیکنې او څېړنې کړې دي.
راپور ۲۱۷مخونه او ۹ څپرکي لري. دا راپور هڅه کوي چې د فکري جګړې ماهیت بدل کړي؛ فکري جګړه له دې وړاندې هم د اسلام او لوېدیځ ترمنځ روانه وه؛ دا راپور هڅه کوي چې جګړه د مسلمانانو سیمو ته راوکاږي او د لوېدیزوالو پر هڅو سربېره ځینې اسلام ته منسوبې څېرې هم په دې جګړه کې د ځان په ګټه ښکېل کړي. دا راپور ټینګار کوي، چې او سنۍ جګړه پر پوځي او امنیتي جګړې سربېره فکري هم ده. تر بحث لاندې راپور له نظره یوازې پوځي او امنیتي جګړه نه شي کولی چې ترهګري له ماتې سره مخ کړي؛ نو له دې امله د اسلامي فکر (چې راپور یې افراطي او تندلاری فکر یادوي) د له منځه وړلو لپاره له فکري جګړې پرته بله لار نه شته. د راپور په دوام کې وضاحت ورکوي چې دغه هدف ته د رسېدو لپاره باید د سړې جګړې له تجربو هم ګټه پورته شي.
دا راپور د دې کار په اهمیت ټینګار کوي چې د اسلام تفسیر له اسلامي جریانونو واخیستل شي او د دغو تفسیرونو پر «تصحیح او بیاکتنې» ټینګار کوي. راپور وایي، چې باید د اسلام داسې تفسیر وړاندې شي، چې د نوې نړۍ له ارزښتونو سره (چې د دوی موخه غربي هغه دي) همغږي او همرنګي ولري او له نړیوالو قوانینو، ډیموکراسۍ، بشري حقونو او د ښځو حقونو سره ټکر ونه لري.
راپور د اعتدال او منځلارۍ خپل تعریف وړاندې کړی دی او ویلي یې دي چې د دغه تعریف له مخې باید رښتیني منځلاري له هغو جلا شي چې د منځلارۍ دعوه کوي. د راپور له مخې، د منځلارۍ او اعتدال دغه تعریف د امریکا په سیاسي پرېکړو او سیاستجوړونو کې پاموړ رول لوبولی دی.
راپور د امریکا متحده ایالاتو ته وړاندیز کوي، چې سیکولر، لیبرال، روڼاندې او نورې هغه ډلې چې د منځلارو جریانونو په ډله کې راځي، رامنځ ته او بیا یې تقویه کړي او له دغو ډلو بیا د هغو اسلامي جریانونو پر ضد ګټه پورته شي چې د منځلارۍ ادعا کوي، د سوله‌ییز ګډ ژوندانه او خبرو اترو بلنه ورکوي. که څه هم دغه راپور ډېرې داسې خبرې لري چې څېړنې او سپړنې ته اړتیا لري؛ خو په دې لیکنه کې د امریکا پر معیارونو بحث کوو چې اعتدال او منځلارۍ ته یې په ګوته کړي او منځلاري مسلمان د امریکا له نظره معرفي کېږي.
دا راپور اشاره کوي، چې د معتدلو اسلامي ډلو د رامنځ ته کېدو پیل د مسلمانانو او د اسلامي ټولنې د اوسېدونکو د ماهیت او هویت له پېژندنې سره کېږي او زیاتوي د دې لپاره چې دا ډلې ښه وپېژندل شي، د دې موسسې پخوانیو

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپورونو ته مراجعه کولی شي چې چاره اسانه کړي. تر بحث لاندې راپور د معتدلو او منځلارو مسلمانو جریانونو د پېژندنې لپاره لاندې معیارونه او ځانګړنې په ګوته کړې دي:

1 . د لوېدیز ډیموکراسۍ منل؛ د معتدل مسلمان یوه ځانګړنه دا ده چې لوېدیز ډیموکراسي ومني. ځینې مسلمانان لوېدیز ډیموکراسي له ټولو ځانګړنو سره مني؛ خو ځینې نور بیا تر هغې ډیموکراسي سره غاړه وړې چې له اسلامي اصولو او مبانیو سره په ټکر او تناقض کې نه وي؛ دا خلک هغې ډیموکراسۍ سره همغږي نه دي چې له اسلامي حکومت او دولت سره همرنګي ونه لري؛

2 . د بشري او غیر الهي قوانینو منل؛ دلته راپور بیانوي چې د معتدلو او افراطي مسلمانانو یو توپیر د اسلامي شریعت د پلې کولو موضوع ده. راپور وړاندې وایي، چې د اسلامي شریعت دودیز تفسیرونه د ډیموکراسۍ له اصولو او اساساتو سره همغږي نه لري او بشري حقونو ته ارزښت نه ورکوي؛ په دې استدلال چې سوډاني لیکوال "عبدالله بن نعیم" په یوې مقاله کې لیکلي، چې مېرمنې او نارینه، مسلمانان او نامسلمانان په اسلامي شریعت کې برابر حقونه نه لري؛

3 . د ښځو او دیني لږه‌کیو حقونو ته درناوی؛ دغه راپور اشاره کوي، چې معتدل مسلمان د نورو مسلمانانو په پرتله د ښځو او مختلفو دیني اقلیتونو حقونو ته ډېر ارزښت ورکوي او پر دې باور دي چې له اوسنۍ زمانې سره د پیغمبر (صلی الله‌علیه‌وسلم) د زمانې د بستر او چاپېریال توپیر په دلیل، باید د قرآن پر هغو تفسیرونو او قرائتونو بیا کتنه وشي، چې ښځو او نارینه وو یا کافر او مسلمان ته مساوي او برابر حقونه نه ورکوي؛

4 . د نامشروع جګړې او تاتریخوالي پرېښودل؛ دلته راپور ټینګار کوي چې معتدل مسلمانان هم لکه د نورو ادیانو په څېر په «مقدسې جګړې» باور لري؛ خو باید د تاوتریخوالي د کارونې پر وخت او ځای او مشروع او نامشروع حالتونو باندې یو ځل بیا غور او دقت وشي.

د منځلارو مسلمانانو ارزونه

زموږ تر بحث لاندې راپور په پنځم څپرکي کې د اعتدال او منځلارۍ د دقیقې پېژندنې لپاره یو لړ پوښتنې مطرح کوي چې د دغو پوښتنو ځوابونه معتدل فرد یا ډله له نامعتدلو جلا کوي. راپور ګوابښ کوي، چې ډېرې ډلې د اعتدال او منځلارۍ ادعا کوي؛ خو په حقیقت کې معتدل نه وي؛ ځکه هغوی له اعتدال څخه خپل ځانګړی تفسیر او تصور لري. د دې لپاره چې حقیقي منځلاري له مدعي منځلارو جلا کړای شو، د دغو پوښتنو ځوابونه به لارښوونکي او ټاکونکي وي او متحده ایالات کولی شي د هغو افرادو او ډلو په حقیقت پوه شي او پرې ونه غولېږي، چې د اعتدال او منځلارۍ ادعا لري او په حقیقت کې معتدل او منځلاري نه دي. دغه راپور د رښتینو معتدلو او درواغجنو معتدلو مسلمانانو د ازمېښت لپاره یو ولس پوښتنې چمتو کړې دي چې په لاندې ډول دي:

1 . ایا دغه فرد یا ډله په جهاد باور لري او تر اوسه یې د جهاد اقدام کړی که نه؟ که د مګړی پرې باور نه لري، باید وکتل شي او پرې پوه شي، چې پخوا یې پرې باور درلود او جهاد یې کړی که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

2 . ایا ډیموکراسي مني که نه؟ که ځواب مثبت وي، باید څرګنده کړي چې ډیموکراسي یې په پراخې معنا پېژني که نه؟

3 . ایا د بشري حقونو نړیواله اعلامیه تاییدوي که نه؟

4 . ایا د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې پر کومې مادې یا مادو (لکه د دین د انتخاب او تغییر حق) ملاحظه لري که نه؟

5 . ایا پر دې باور لري چې د دین ادلون بدلون د انسانانو له فردي حقونو څخه ګڼل کېږي؟

6 . ایا دولت د اسلامي شریعت د جنایي قوانینو په پلې کولو ملزم ګڼي که نه؟

7 . ایا دولت د اسلامي شریعت د مدني حقونو په پلي کولو ملزم ګڼي که نه؟ د هغو کسانو په تړاو د ده دریځ څه دی، چې اسلامي قوانین نه مني او ولسي، ډیموکراتیکو نظامونو او سیکولریزم ته ترجیح ورکوي؟

8 . ایا هغه حقونه چې مسلمانانو ته ورکوي، دیني لږکیو ته یې هم ورکوي که نه؟

9 . ایا مني، چې د دیني لږکیو له ډلې کوم نامسلمان (په هغو هېوادونو کې چې اکثر استوګن یې مسلمانان دي) لوړ پوړیو سیاسي پوستونو ته ورسېږي که نه؟

10 . ایا په هغوی هېوادونو کې چې استوګن یې اغلب مسلمانان دي، دیني لږکیو ته حق ورکوي چې خپلې ځانګړې عبادتګاوې جوړې کړي؟

11 . هغه تقنیني نظامونه چې په کې قانون جوړونه په غیر دیني اصولو او مبانیو ولاړه وي، مني که نه؟

هر څوک چې دغه پوښتنې او معیارونه ولولي، بې له ځنډه پوهېږي چې د اعتدال دغه ډول تعریف اسلام پورې هېڅ تړاو نه لري او موخه یې له اسلام څخه د مسلمانانو لرې کول دي او دغسې اعتدال یوازې د امریکا ګټې تضمینوي. په اسلامي ټولنه کې د اعتدال د دغه ډول تعریف بنسټیزه کېدنه (چې د اسلامي رحمت د اعتدال او منځلارۍ له بنسټونو سره هېڅ تړاو نه لري) د یو لړ غربي منل شوو اصولو له منلو پرته بله معنا او مفهوم نه شي لرلی. بنايي په راتلونکي کې دغه معیارونه د نړیوالو قوانینو په توګه د ملګرو ملتونو پر ټولو غړو هېوادونو وتپل شي او تخلف یې شاید د بشر حقونو او بین المللي قوانینو ته سپکاوی وګڼل شي. مخکې له دې هم د بشري حقونو او نړیوالو قوانینو په نامه همجنسګرایانو او هغو ته چې له اخلاقو او انساني ارزښتونو سره په جنګ وو، ازادي ورکړل شوه. پاموړ ټکی دا دی، چې دغه راپور له نوو داعیانو (یا د راپور په ژبه "ځوان داعیان") غواړي چې اسلامي متونو او میراثونو ته مراجعه وکړي او دغو معیارونو او ځانګړنو ته شرعي او اسلامي پوښونه او توجیه ومومي!

دا راپور وړاندیز کوي چې د اعتدال او منځلارۍ بلنه باید د منبرونو له سره نه، بلکې د ټلویزیوني خپرونو له لارې د پیاوړو شخصیتونو له خوا ترسره شي. دا راپور ټینګار کوي چې باید له دودپالي او صوفي جریان څخه د سلفي مسلمانانو پر ضد ګټه پورته شي. دغه راپور دودپالی لیدلوری داسې تعریفوي: "دودپالی هغه غورځنګ او جریان دی چې هغوی په هدیرو کې لمنځونه کوي او مذهبپالنې او نه اجتهاد ته بلنه کوي او صوفیانه تمایلات لري".

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپور د لوېديځ په ګټه ټينګار کوي، چې د اسلامپالي جريان پر ضد د صوفي او دودپالي جريانونو ترمنځ د تفاهم او يووالي زمينه برابره شي.
*دا ليکنه غالباً باسم خفاجي په عربي کړې او ابو زينب محمد بهرامي فارسي ته ژباړلې وه. ما د ښاغلي بهرامي له فارسي ژباړې پښتو کړې ده

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**